
# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د فبروري پنځمه | ۵۰۹مه ګڼه



## کتاب
۴ مخ

### د یوویشتمې پېړۍ تجارت




د کتاب لیکوال وایي: «دا کتاب د هغه چا لپاره دی چې له دندې ستړی شوی وي او اوس غواړي چې خپل کاروبار جوړ کړي. له تنخوا ستړی شوی وي او اوس غواړي چې میلیونر شي.»

### چارواکي: روان میلادي کال په ننګرهار کې له دوو میلیونو زیات نیالګي کېنول کېږي



د ننګرهار چارواکي وایي، سږ کال په دغه ولایت کې تر دوو میلیونو زیات نوي نیالګي کېنول کېږي.
د ننګرهار د والي ویاند عطاالله خوګیاڼي ویلي چې یاد شمېر نیالګي پخپله په ننګرهار کې د کېنولو لپاره کرل شوي او د یوې کرڼلارې له مخې به پر بېلابېلو ادارو ووېشل شي.
د نوموړي په خبره، په دغو نیالګیو کې ۳۰۰ زره مېوه لرونکي او نور بې‌مېوې دي.
چارواکي ټینګار کوي چې سږ کال د نویو کېنول شویو نیالګیو د پالنې او څارنې چارې هم په جدي توګه سنبالوي.
د ننګرهار چارواکي په داسې حال کې د نویو نیالګیو د کېنولو خبره کوي چې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د ژمي په پای او د پسرلي په پیلېدو سره د نویو نیالګیو د کېنولو لپاره موسمي فرصت برابرېږي.
د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم په نورو ولایتونو کې د نویو نیالګیو د کېنولو لپاره ترتیبات نیول شوي دي.

# پر سوله د امریکا او طالبانو ناندرې؛

## طالبان: امریکایان پره دي، د دوی بدلېدونکو دریځونو سولې ته خنډونه جوړ کړي


۳

### معلوماتو ته د لاسرسي ربړه او حکومتي دریځ
۲ مخ

### د طالبانو او امریکا په مذاکراتو کې بې باوري
۲ مخ

### له پلار سره څنګه ملګرتیا وکړو؟
۳ مخ

### اجرایه ریاست: د حقایقو پټولو او سانسور وخت پای ته رسېدلی دی

اطلاعاتو ته د نه لاسرسي په اړه د رسنیو تر اعتراض وروسته، اجرایه ریاست د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، د حقایقو د پټولو، تحریف او سانسور وخت پای ته رسېدلی دی.
په دې خبرپاڼه کې د اجرایه رییس له قوله لیکل شوي، دولتي ادارې باید اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې له هېوادوالو سره مرسته وکړي.
خبرپاڼه دغه راز کاږي، د بیان ازادي د افغانستان د تېرو لاسته راوړنو یوه ستره برخه جوړوي او دا د دولت دنده ده چې په ښه توګه ترې ساتنه وکړي.
د سرچینې په خبره، اجرایه ریاست هڅه کوي چې هر څومره ژر د دې ستونزې د حللارې پیدا کولو په موخه د رسنیو له مسوولینو سره یو ځای یوه ګډه ناسته تر سره کړي.
دا په داسې حال کې ده چې ۳۰ رسنیو په یوه سرخلاصي لیک کې د حکومت له لوري اطلاعاتو ته د لاسرسي د محدودیت په اړه اعتراض وکړ.
په دې لیک کې دغو رسنیو اطلاعاتو ته د لاسرسي د وضعیت له بدتر کېدو اندېښنه ښودلې او ویلي یې دي چې افغانستان په وروستیو کلونو کې په دې برخه کې شاتګ درلود.
په لیک کې راغلي: «سره له دې چې افغانستان د خبریالانو لپاره په نړۍ کې یو له خطرناکو هېوادونو دی، د افغانستان رسنۍ په سیمه کې له ازادو رسنیو وې، خو اطلاعاتو ته د لاسرسي پر وړاندې ننګونې دغه لاسته راوړنې له خطر سره مخ کوي.» دغو رسنیو په خپل لیک کې د سترې محکمې، لویې څارنوالۍ، ملي امنیت، ملي تدارکاتو ادارې، د ولسمشر دفتر، بهرنیو چارو وزارت، مالیې وزارت، د افغانستان بانک، کورنیو چارو وزارت او عامې روغتیا وزارت په څېر دولتي بنسټونه له ډېرو تړلو ادارو بللي دي.

### په تېر ۲۰۱۹ میلادي کال کې نږدې ۱۱زرو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې




۲ مخ

### تیفا: کمیسیون‌های انتخاباتی با نقض قوانین، انتخابات را به بن‌بُست کشانیده‌اند



مسؤلان در بنیاد انتخابات شفاف افغانستان یا تیفا می گویند که کمیسیون‌های انتخابات با نقض قوانین و بازی با ارقام، انتخابات ریاست جمهوری را به بن‌بُست کشانیده‌اند.
مسؤلان تیفا در یک نشست خبری در کابل یافته‌های نظارتی چهار ماهه شان از پروسه انتخابات ریاست جمهوری را با رسانه‌ها شریک ساخته می گویند که کارکرد هر دو کمیسیون انتخاباتی بعد از برگزاری انتخابات قناعت‌بخش نیست.
محمد نعیم ایوب زاده رئیس تیفا گفت که مسؤلان کمیسیون‌های انتخاباتی با نقض قوانین و بازی با ارقام انتخابات ریاست جمهوری افغانستان را به بن‌بُست کشانیده‌اند.
آقای ایوب زاده گفته است: «مسئلۀ ۳۰۰ هزار رای اختلافی که جزئیات معتبر از آن در نزد نهادهای ناظر انتخاباتی و رسانه‌ها قرار ندارد، معلوم نیست از کجاه آمده؛ در حقیقت یک بن‌بُست و بهانه است که نمی‌تواند شفافیت انتخابات ریاست جمهوری را تامین کند.»
استخدام‌های غیر قانونی توسط کمیشنران کمیسیون‌های انتخاباتی، مبهم بودن سن قانونی یکی از کمیشنران کمیسیون و معرفی نشدن کارمندان متخلف و متقلب کمیسیون انتخابات به نهادهای عدلی و قضایی از دیگر یافته‌های نظارتی تیفا از پروسه انتخابات است.
قابل یادآوریست که با گذشت بیش از چهار ماه از انتخابات ریاست جمهوری افغانستان هنوز هم نتایج نهایی این انتخابات اعلام نشده.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
Aksos Book Store
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
0798-98-9696, 0202504652

## دریـــځ

### معلوماتو ته د لاسرسي ربړه او حکومتي دریځ

پرون پـه کابل کـې د ځینـو ملي او سیمه ییزو رسنیو مـشران او خبریـالان را ټـول شـوي وو چـې د حکومت لـه خوا معلوماتو تـه د لاسرسي پـر محدودولـو اندېښـنه وښـیي. دوی د ځینـو حکومتـي ادارو نومونـه واخیسـتل چـې رسـنیو تـه معلومـات نـه ورکـوي. سـتره محکمـه، لویـه څارنـوالي، مـلي دفـاع، کورنیـو چـارو، عامـي روغتیـا او مالیـې وزارتونـه، مرکـزي بانـک، د تدارکاتـو مـلي اداره او ځینـې نـورې ادارې یـې پـر دې تورنـې کـړې چـې رسـنیو تـه معلومـات نـه ورکـوي. دا چـاره یـې د قانـون خـلاف او د بیـان ازادۍ پـر ضـد وګڼله او غوښـتنه یـې وکړه چـې ژر تـر ژره بایـد دا حالت ختـم شي. تر دې وړانـدې هـم حکومـت ګـرم بلـل شـوی و چـې معلومـات محـدودوي، د رسـنیو ملاتـړ نـه کوي او آن کلـه کلـه د حکومـت لـه منځـه د بیـان د ازادۍ پـر ضـد ګامونـه پورتـه کېـږي. ارګ دا تورونـه نه منـي، خو اجرایه ریاسـت وایي چـې د معلوماتـو د تحریـف، سانسـور او پټولو وخت تېر شـوی او دوی بـه د سـتونزې د حـل لپاره عملي هڅـې پیـل کـړي.

لـه ټولـو نیمګړتیـاوو سره سره د بیـان ازادي د اوسـني نظـام یـوه سـتره لاسـته راوړنـه وه، خـو د مـلي یـووالي حکومـت لـه پیـل څخـه پـه سیسـتماتیک ډول دا لاسـته راوړنـه لـه ګـواښ او سـتونزو سره مـخ ده. پـه دې مرحلـه کـې معلومـات محـدود شـوي دي او هغـه مهمـې ادارې چـې بایـد خلکـو تـه معلومـات ورکـړي، لـه رسنیو سره مرسـته نـه کـوي. د مـلي یووالي حکومـت کومـې ادارې چـې معلومـات نـه ورکـوي، پـه واقعیـت کـې همـدا د حکومـت اصـلي برخـه ده. حکومت یو شـو ادارو ته را ټول شـوی او ډېـرې ادارې یـې بـې مانـا شـوې دي. همدغـه مهمـې ادارې معلومـات نـه ورکـوي. د بېلګـې پـه ډول، ټولې مـالي او اقتصادي چارې پـر مالیې وزارت، مرکزي بانـک او تدارکاتو اداره پـورې تـړل شـوې، دوی معلومـات نه ورکـوي او نور اړوند وزارتونه بې مانا شـوي دي. همداسـې امنیتـي سـکټور چـې د خلکـو د ژونـد مسـوول دی، معلومـات نـه ورکـوي.

داسـې ښـکاري چـې د معلوماتـو محـدودول یـو قصـدي، پـلان شـوی او شـعوري کار دی او دا هـر څـه لـه ارګ څخـه تنظیمېـږي. پـه دې حکومـت کې ځینې مسایل تر هغـه ډېر خراب روان دي چـې حکومتـي چارواکي یـې وایي، نو کـه اوس خلـک معلوماتـو ته لاسرسـی ولـري او ادارې رسـنیو تـه معلومات ورکـړي، نو حکومتي دروغ بـه افشـا کېـږي او دولـت بـه د خلکـو تـر فشـار لانـدې راځـي. لـه همـدې املـه حکومت غـوره ګڼلـې چـې معلومـات محـدود کـړي او یـوازې لـه رسـنیو سره هغـه څـه شریـک کـړي چـې دوی یـې غـواړي.

اوس هغه وخت دی چې رسـنۍ، ژورنالېسـتان، سـیاسي فعالیـن، مـلي شـورا، مـدني ټولنـې او ټـول ولـس پر حکومت فشـار راوړي چـې قانون تـه درنـاوی وکـړي. رسـنیو او ژورنالېسـتانو تـه بایـد هغـه معلومـات ورکـړي چـې قانـون یـې حـق ګڼلـی دی او دا معلومـات بایـد تـر خلکـو ورسـېږي. لـه دې پرتـه زمـوږ دا بلـه لویه لاسـته راوړنـه (د بیـان ازادي) هـم لـه منځـه تلونکـې یـا کمـزورې کېدونکـې ده. پـه دې سره بـه نـه یـوازې پـه نړیوالـه کچـه مـوږ تـر فشـار لانـدې راشـو، بلکې ولسـواکي او د قانون واکمني به لا زیاتـه کمـزورې شي. دا چاره د دې لامل شـوې چـې حکومـت د ډیکتاتـورۍ لـوري تـه ځـي او همداسـې بـه د افغانسـتان خلـک ورو ورو لـه خپلـو اسـاسي حقونـو محرومېـږي. لـه همـدې املـه بایـد د دغـه حالـت مخـه ونیـول شي او دا لاسـته راوړنـه وساتل شي.

# پر سوله د امریکا او طالبانو ناندرۍ؛

## طالبان: امریکایان پړه دي، د دوی بدلېدونکو دریځونو سولې ته خنډونه جوړ کړي



د سـولې د خـبرو لـه ګونـګ بهیـر سره هممهالـه طالبانـو د امریـکا ځینو ادعاوو تـه غبرګـون ښـودلی دی. طالبانو ویلي، دوی سـولې تـه تیـار دي او د سـتونزې د حـل لپاره قـوي اراده لـري، خـو امریکا پـه دې برخـه کـې لـه سـتونزو سره مخ ده. د طالبانـو ویانـد ذبیـح الله مجاهـد پـه یـوه ټوېټ پیغـام کـې ویلـي چـې پـه افغـان حکومـت کـې سـیاسي اختلافاتو هـم دغـه بهیـر ټکنـی کـړی او د هوکـړې په لاسـلیک کې یـې خنډونه جـوړ کـړي.

د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزیـر مایـک پامپیـو بیـا وایـي، دوی بـه اجازه ور نـه کـړي چـې طالبـان افغانسـتان بـې ثباته کـړي او د یـوې بـاوري هوکـړې لاسـلیک تـه پـه تمـه دي.

د امریکا د بهرنیو چار وزیر ازبکسـتان ته سـفر کـړی و او هلتـه یې له دغـه هېواده د سـولې پـه برخـه کـې د همکارۍ غوښـتنه کـړې ده. دا یـې هـم ویلي چې افغانسـتان پرمختـګ تـه اړتیا لـري، نو د ازبکسـتان مسـوولیت دی چـې تر خپلې وسـې پـه دې برخه کې همـکاري وکړي.

لـه دې سره جوخـت یـې د افغان سـولې پـه اړه هـم خبرې کـړې دي. نومـوړي په خپلـو خبرو کـې ویلـي وو، طالبـان باید دا ضمانـت ورکړي چـې دوی د جګړو د کنټـرول، اوربند یـا تاوتریخوالي د کمولو وړتیـا لري. د پامپیو په خبره، دوی ډاډه نـه دي چـې طالبـان بـه وکولی شي چې د جګـړې میـدان کنټـرول کـړي او که نه.

هغـه همـدا راز ټینـګار کـړی چـې بهرني ځواکونـه بـه لـه افغانسـتانه وځـي، خـو اجـازه بـه نـه ورکـوي چـې طالبـان دغـه هېـواد یـو ځـل بیـا بـې ثباتـه کـړي. نومـوړي د ازبکسـتان له دولتي ټلوېزیون سره پـه خبرو کـې ویلـي وو، دوی غواړي ډاډ تـر لاسـه کـړي چـې افغانسـتان تـه دایمـي سـوله او دایمـي ثبـات راتللـی شي. پامپیـو زیاتـه کـړې: «مـوږ خپـل سرتېـري لـه افغانسـتانه وباسـو، خـو د سرتېـرو تـر وتلـو وروسـته د دې اجازه نـه ورکـوو چـې د افغانسـتان وضعیت خراب شي. ګوابنـونه شـته دي، خـو غـواړو ډاډ تـر لاسـه کـړو چـې دلتـه دایمـي سـوله راتللـی شي.»

پامپیـو د سرتېـرو د شـمېر کمولـو خـبره هـم کـړې ده، خـو وایـي، دا بهیـر بـه داسـې نـه وي چـې پـه افغانسـتان کـې امنیتـي سـتونزې جـوړې کـړي. پامپیـو بیـا پـه وروسـتیو څرګندونـو کـې د افغانسـتان پـه سـوله کـې د ګاونډیـو هېوادونـو رول هـم مهـم بللـی و او د سـیمې پـر هېوادونـو یې غږ کـړی و چې د جګـړې پـه لـه منځـه وړلـو کـې پـوره همـکاري وکـړي.

طالبانـو د پامپیـو پـر دې څرګندونـو غبرګـون ښـودلی دی. د طالبانـو ویانـد ذبیـح الله مجاهـد وایـي، دوی د سـتونزې حـل ته لېوالـه دي او د دې کار وړتیـا لـري. د مجاهـد پـه خـبره، طالبان پـر خپلـو ژمنـو او کړو خـبرو ولاړ دي، خو امریـکا کاواکـه ده او نـوي نـوي شرایط وړانـدې کـوي. مجاهـد زیاتـوي: «مـوږ د مشـکل د حـل اراده او تـوان لـرو، د مذاکراتـو بهیـر د ټرمپ ټوېټ، د امریکا متعـددو غوښـتنو او پـه کابـل او امریـکا کـې د چارواکـو اختـلاف ټکنـی کـړی دی.»

طالبـان د مذاکراتـو د ځنډ یـو بـل سـتر لامـل د افغـان او امریکایـي حکومـت د چارواکـو تـر منـځ د نظـر اختـلاف بولي. مجاهـد امریکا ملامته کـړې چـې ګواکې خپلـه ملامتـي پـر دوی اچـوي. د ده پـه خـبره، طالبـان خپلـو خـبرو تـه ژمن دي او دریځ یـې د امریکایـي لـوري پـه څېر متزلـزل او بدلېدونکـی نـه دی.

تـر دې وړانـدې د طالبانـو د قطر دفتر ویانـد سـهیل شـاهین هـم ویلي وو، چـې دوی سـولې تـه ژمـن دي او پـر خپلـو خـبرو ولاړ دي، خـو د امریـکا پرلـه پسـې او بدلېدونکـو غوښـتنو د سـولې هوکـړې لاسـلیک ځنډولـی دی. ویـل کېـږي چـې د طالبانـو او امریـکا تـر منـځ پـر دوو مـواردو اختـلاف دی. لومـړی مـورد اوربنـد یـا د تاوترخـوالي کمـول دي چـې طالبـان بایـد ضمانـت ورکـړي او دویـم یـې هـم د بیـن الافغـاني خـبرو د پیـل پـه اړه دی. طالبـان وایـي، دوی تاوتریخوالـی کمـوي، خـو عمومـي اوربند بـه د بیـن الافغـاني خـبرو پـر مهـال رامنـځ تـه کېـږي. افغـان حکومـت هـم د تاوتریخـوالي کمـول حللاره نـه بولي، خو عمومـي او اوږدمهالـه اوربنـد مهم بولي.



## راپورونه: د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ په تازه نښتو کې له ۲۰ ډېر کسان وژل شوي

د راپورونو له مخې، د سوریې په شمال-لوېدیځ کې د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ په نښتو کې تر ۲۰ ډېر کسان وژل شوي دي.

په ورته وخت کې له دې سره د مسکو او انقرې تر منځ په اړیکو کې هم په سوریه کې د اپوزیسیون د وروستي مورچل ادلیب پر سر ترینګلتیا زیاته شوې ده.

د ترکیې دفاع وزارت ویلي، د شپې له خوا د سوریې په ادلیب کې د سوریې د حکومتي ځواکونو د توپونو په ډزو پنځه ترکي سرتېري او درې ملکیان وژل شوي.

د ترکیې دفاع وزیر هولوسي اکار ویلي، د ترکیې پوځ هم په ځوابي برید کې ۵۴ هدفونه ویشتلي دي.

بلخوا د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي چې د ترکیې د توپونو په ډزو په لاذقیه، ادلیب او حما ولایتونو کې ۱۳ سوري سرتېري وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې ترکیه او روسیه چې د سوریې په کړکېچ کې د مخالفو لورو ملاتړ کوي او په ادلیب کې یې د تاوتریخوالي پر بندولو هوکړه کړې وه، خو په دې وروستیو کې له دې هوکړې پرله پسې سرغړونې شوې دي.

د راپورونو له مخې، په لکونو کسان په دغه ولایت کې د سوریې د پوځ د عملیاتو له پیل وروسته تښتېدلي او ډېر یې د ترکیې د پولې خواته نږدې کېږي.

دغه راز د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان مسکو ته خبرداری ورکړی چې د توپونو د ډزو په مسئله کې د له دمشق سره د انقرې له چلنده ځان لرې وساتي او په وینا یې د ترکیې په لاره کې دې نه درېږي.

د روسیې دفاع وزارت ویلي، ترکي ځواکونه وروسته له هغې تر برید لاندې راغلل چې دوی په ادلیب کې په خوندي سیمه کې پرته له دې چې روسي لوری خبر کړي، وړاندې ولاړل.

د سوري او ترکي ځواکونو تر منځ دغه نښتې داسې مهال شوې چې له دې وړاندې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان خبرداری ورکړی و چې که د سوریې حکومت په ادلیب کې د عملیاتو د پیلولو هڅه وکړي، دوی به یې پر وړاندې ودرېږي. هغه دغه راز ټینګار کړی چې ښکېلې خواوې دې د تېر میلادي کال اوربند ته ژمنې پاتې شي.

## د روغتیا نړیوال سازمان: هر کال ۱۵ زره افغانان د سرطاني ناروغیو له کبله مري

افغان چارواکي وایي، په افغانستان کې پر سرطان د اخته ناروغانو وضعیت د اندېښنې وړ دی.

دا په داسې حال کې ده چې پرون له سرطان سره د مبارزې نړیواله ورځ وه.

له سرطان سره د مبارزې افغان بنسټ ویلي چې په هېواد کې هر کال شاوخوا ۲۰ زره تنه پر دغه ناروغۍ اخته کېږي چې د روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، له ډلې یې شاوخوا ۱۵زره مري.

له دې ناروغۍ سره د مبارزې بنسټ مشرې ډاکټرې نسرین اوریاخېل ویلي چې پر دې ناروغۍ د اخته کسانو د درملنې په برخه کې د افغان حکومت هڅې تر اوسه بې پایلې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د کابل په جمهوریت روغتون کې د سرطاني ناروغانو لپاره یوازینۍ ٦٠ بستریزه برخه فعاله ده، چې د اوریاخېل په خبره، بشپړ خدمتونه نه لري. چارواکو ویلي چې د دغه مرکز د جوړېدو چارې کابو دوه کاله وړاندې پیل شوې وې او اوس پکې پر یادې ناروغۍ اخته لسګونه کسان تر تداوۍ لاندې دي.

ډاکټران وایي، سرطان ناروغي د مخنیوي وړ هم ده، خو په نړیواله کچه د سینې سرطان، د معدې او ځیګر سرطان تر ټولو خطرناک ګڼل شوي چې ډېری وختونه یې د درملنې امکانات کم دي.

د معلوماتو له مخې، په نړۍ کې د سرطان ناروغۍ یو پر درې برخه د درملنې وړ ده، خو په افغانستان کې د امکاناتو د کموالي له امله ډېره برخه ناروغان د دې ناورغۍ له امله مري.

# د طالبانو او امريکا په مذاکراتو کې بې باوري

لیکنه: نظرمحمد مطمئن

مخکې له دې چې د طالبانو او امريکايانو تر منځ د سولې مخامخ خبرې پيل شي، د بهرنيانو له خوا نيوکه کېدله چې د قطر سياسي دفتر ډېر واک نه لري، طالب مشرانو په لومړنۍ ليدنه کې مخامخ خليلزاد او جنرال ميلر ته روښانه کړه، چې د سولې مذاکراتو خبرو واک د طالبانو د قطر سياسي دفتر سره تړاو لري.

په دويم قدم کې طالبانو د بهرنيانو د اندېښنو او بې باوريو له منځه وړلو لپاره د قطر دفتر لپاره د ملا برادر اخوند گومارنه داسې مهال وکړه، چې لا هم بهرنيانو د قطر سياسي دفتر په اړه د واک د محدودتيا اندېښنې درلودلې.

له هغه وروسته امريکايي لوري او طالبانو توافق وکړ چې د سولې مذاکراتو لپاره به طالبان او افغان سياستوال + حکومت مذاکراتي ډلې جوړوي، طالبانو په ډېر لږ وخت کې د خپلې قوي مذاکراتي ډلې نومونه د رسنيو په واک کې ورکړل، خو امريکايان تر يوه کال په زياته موده کې ونه توانېدل چې د افغان حکومت او افغان سياستوالو تر منځ فاصله ختمه او گډ مذاکراتي ډله ونومول شي.

د نهه پړاوه خبرو په جريان کې د طالبانو او امريکا تر منځ ډېرې بې باورۍ را منځ ته شوې، زه يې ځينې مهمې دلته را اخلم:

لومړی: د طالبانو او امريکا تر منځ ژمنه شوې وه چې د سولې مذاکرات به په دوحه کې مخته وړي، يو ناڅاپه د امريکا، پاکستان، متحده عربي اماراتو او سعودي په غوښتنه د سولې مذاکراتو لپاره غونډه په ابوظبۍ کې ونيول شوه، د طالبانو او امريکا تر منځ مخکينۍ توافق شوې اجنډا ته بدلون ورکړل شو، د يادو هيوادونو استازو له طالبانو په کلکه وغوښتل چې د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرې وکړي او اوربند ومني، په داسې حال کې چې د افغان حکومت استازي هم ابوظبۍ ته رسېدلي وو او تمه يې درلوده چې له طالبانو سره به مخامخ خبرې وکړي.

دويم: بيا هم د طالبانو او امريکا تر منځ توافق شوی و، چې مذاکراتو ته به په دوحه کې دوام ورکوي، خو کله چې د مذاکراتو نېټه را ورسېده، زلمی خليلزاد د دوحې پر ځای اسلام اباد ته ولاړ، ويل کېږي چې اسلام اباد هغه ته وعده ور کړې وه چې د طالبانو د ډلې دوه مرستيالان (مولوي محمد يعقوب او خليفه سراج الدين حقاني) به ورسره کېنوي. په اسلام اباد کې له څلورو ورځو انتظار وروسته خليلزاد د اسلام اباد له کړې ژمنې مايوسه او د ځينو اروپايي هيوادونو په منځگړيتوب او د هغوی په خوله يې طالبانو ته احوال واستاوه چې په دوحه کې له ده سره ووينې.

درېيم: امريکايانو به طالبانو ته نږدې کسانو ته دا خبره رسوله چې له دوی سره اندېښنه ده، چې ملا برادر اخوند او مولوي اميرخان متقي کېدای شي ليواله نه وي چې په قطر کې له امريکايانو سره په خبرو کې برخه واخلي او يو ډول يې داسې ښودله چې دا کسان به د پاکستان تر فشار لاندې وي او پاکستان هم نه غواړي چې هغوی دوحې ته ولاړ شي.

د طالبانو دغه دوه مهم مشران او ورسره ډېر قوي او د طالبانو په ليکو کې د ښه نوم او باور لرونکي کسان، د پاکستان له ډېر فشار سره سره، دوحې ته ورسيدل او هلته يې له امريکايانو سره په خبرو کې برخه واخيستله.

څلورم: د مسکو ناستې په دوام، پتېيل شوې وه چې په قطر کې به بين الافغاني ناسته کيږي، امريکا، افغان حکومت، افغان سياستوالو او طالبانو هم منلې وه.

مگر د افغان حکومت له خوا د اوږد لېست وړاندې کولو او بيا کابل ته د قطر هوايي کرښې الوتکې ته نه اجازه او د امريکا له خوا يې نه مخالفت، همدارنگه د غونډې د مخنيوي لپاره په کابل کې د امريکا په خوښه او يا نه مخالفت سره د سولې مشورتي لويه جرگه جوړېدل او پر طالبانو نيوکې او له هغوی څخه د اوربند او له افغان حکومت سره مخامخ خبرې، مخکې له دې چې د طالبانو او امريکا تر منځ د سولې په تړون کې پرمختگ وشي.

همدارنگه بيا په قطر کې د ځينو افغان سياستوالو، د رسنيو او مدني ټولنو له هغو استازو سره د طالبانو ناسته، چې د امريکا، برېټانيا، جرمني سفارتونو او اروپايي ټولنې له خوا چمتو شوي وو. دا ناسته د طالبانو د ليوالتيا وړ هم نه وه، خو بيا هم د مسکو په دوام، د مهمې غونډې ځای دغسې يوې کوچنۍ او بې پايلې غونډې ونيو او دا هر څه امريکايانو په اگاهانه ډول کول.

پنځم: د امريکايانو په ډله کې تر لس زيات، خو داسې کسان چې د ناستو پر مهال يې خبرې نه کولې، يوازې د طالبانو څيرو او د هغوی خبرو او لهجو ته متوجه، انسان پېژندونکي او غوښتل يې چې يو ډول د طالبانو په منځ کې درز پيدا کړي.

شپږم: تر نهه پړاوه مخامخ مذاکراتو وروسته، تر ټولو لويه بې باوري د طالبانو او امريکا تر منځ هغه وخت رامنځ ته شوه، چې د سولې تړون اړوند ټول مسايل او جزيات وروستي شول، توافق شوی و چې د تړون له لاسليک څخه اته ورځې وروسته به د طالبانو خبرې له افغان حکومت او افغان سياستوالو سره پيلېږي، يو ناڅاپه د ولسمشر ټرمپ له خوا ټويټ وشو چې د سولې مذاکرات يې په کابل کې د خپل يو پوځي د وژنې له امله درولي دي، په داسې حال کې چې په کومه ورځ چې په کابل کې طالبانو بريد وکړ، امريکايي پوځي قتل شو، په هماغه ورځ جنرال ميلر او خليلزاد ماښام مهال له طالبانو سره د توافق د رسمي مراسمو په اړه د قطر د بهرنيو چارو وزارت کې خبرې کولې.

د ټرمپ دغه ډول کړنې تر ټولو لويه بې باوري د طالبانو او امريکايانو تر منځ را منځ ته کړه.

اووم: د ټرمپ له خوا چې د سولې مذاکرات وځنډول شول، امريکايانو هڅې پيل کړې چې طالبان نرمښت وښيي او داسې کړنه وکړي چې د مذاکراتو بيا ځل دوام ته لاره هواره شي. د امريکايانو له خوا بېلابېل وړانديزونه طالبانو ته د يو او بل په خوله رسول کيدل، چې يا خو طالبان اوربند ومني، يا خو د افغان- امريکايي پوهنتون استادانو تبادله وکړي، يا خو په خپله مذاکراتي ډله کې ميرمنې ور زياتې او يا هم له افغان حکومت سره مخامخ خبرې او يا هم په تاوتريخوالي کې کمښت راولي.

د مذاکراتو په لومړيو ناستو کې امريکايانو استدلال کاوه چې د بنديانو د تبادلې او خلاصون خبرې بايد طالبان له افغان حکومت سره مخامخ وکړي، ځکه بنديان د افغان حکومت په واک کې دي او دا کار په هغوی پورې تړاو لري، خو وروسته د بنديانو د تبادلې بهير؛ د افغان حکومت په ناخبرۍ کې امريکايانو له طالبانو سره مخکې يوړ.

طالبانو د افغان- امريکايي پوهنتون د استادانو تبادله ومنله، امريکايانو ټينگار درلود چې له تبادلې سره سره له افغان حکومت سره مخامخ خبرې هم ومني، کله چې د طالبانو جواب منفي و، بيا امريکايانو ټينگار درلود چې طالبان اوربند ومني، بالاخره مايوسه شول او پرته له يادو دوو شرطونو يې د بنديانو د تبادلې تړون له طالبانو سره په دوحه کې لاسليک کړ.

طالبانو انتظار ايست چې خپل بنديان يې د قطر هوايي کرښې الوتکه کې دوحې ته راوړل شي، بيا هم نابېره د امريکايانو له خوا د دوو ورځو اوربند غوښتنه وشوه، د بنديانو د تبادلې بهير وځنډېد او بې باوري پکې لا زياته شوه.

د بنديانو تر تبادلې وروسته، تمه کېدله چې امريکايان به له طالبانو سره د سولې نهايي شوی تړون لاسليک کړي او دا يو ښه فرصت هم و، ځکه ولسمشر ټرمپ، د امريکا بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو او لوړ پوړو امريکايي سياستوالو د افغان- امريکايي پوهنتون دوو استادانو خوشې کېدل د سولې لپاره يو ښه پرمختگ وباله.

اتم: طالبان او افغان ولس په تمه وو چې دا ځل به خليلزاد له نويو او مخکنيو شرطونو پرته، له طالبانو سره د سولې تړن د لاسليک په اړه خبرې کوي، مگر داسې ونه شول، بيا هم امريکايي لوري له طالبانو وغوښتل چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې، د سولې تړون تر لاسليک مخکې پيل کړي.

طالبانو بيا هم دغه مسئله کورنۍ ياده کړه، امريکايي لوري ته يې وويل چې کله له تاسې سره تړون لاسليک شي، بيا به موږ افغانان خپلمنځي ناستې او مذاکرات کوو.

امريکايانو ډېر ټينگار درلود چې طالبان له امريکا سره تر تړون وړاندې اوربند ومني، په دې اړه په لومړيو وختونو کې امريکايانو ډېر نرمښت وښود، تر دې چې په نا اعلان شوي دوه ورځني اوربند باندې يې هم اکتفا درلوده.

طالبانو د اوربند پر ځای د تاوتريخوالي کمولو ژمنه وکړه، همدا کار يې وکړ، په جگړه کې د پام وړ کمښت راغی، خو بل خوا بيا په لړې پرتو سيمو کې امريکايانو او کورنيو پوځيانو بمبارد، شپنۍ چاپې، د ملکي خلکو وژنې او بريدونه تر پخوا لا زيات کړل چې طالبان يې د امريکا پر نيت لا ډېر شکمن کړل.

نهم: امريکايانو له طالبانو سره ومنله چې د تاوتريخوالي کمولو ژمنه وکړي، څو ولسمشر ټرمپ ته د سولې مذاکراتو کې د خليلزاد له خوا دا لاس ته راوړنه وړاندې شي. د طالبانو د قطر سياسي دفتر وکولای شول چې د دفتر دغړو، د خپل مشر شيخ هيبة الله، د رهبري شورا، نظامي شورا، علماوو شورا او اړوند کمېسيونونو اجماع او رضايت د تاوتريخوالي کمولو لپاره تر لاسه کړي، دا يو لوی او ښه پرمختگ و، د همدې پرمختگ ليکلی متن يې امريکايي لوري ته په واک کې ورکړ. طالبانو تمه درلودله چې له امريکايي لوري به مثبت ځواب تر لاسه کړي، خو په دوبۍ کې د يوناما په مشرۍ د خليلزاد، ناټو ملکي استازي، اروپايي ټولنې، امريکا، برېټانيا، فرانسې، جرمني او ناروې سفيرانو د ناستې پر مهال خليلزاد څرگنده کړه چې پر طالبانو لا زيات فشار ته اړتيا ليدل کيږي او له دې وړاندې خليلزاد پر طالبانو د فشار لپاره پاکستان ته ولاړ، هلته يې د پاکستان له چارواکو هم غوښتې وو چې پر طالبانو د اوربند لپاره فشار زيات کړي.

د دوبۍ له غونډې وروسته، خليلزاد له طالبانو وغوښتل چې يا خو اوربند ومني او يا هم اوربند ته ورته نږدې څه ومني.

د امريکايانو په غوښتنو کې وخت په وخت بدلون او د غوښتنو زياتوالي طالبان د امريکايي لوري پر نيت نور هم شکمن کړل او د امريکايانو له خوا چې د تاوتريخوالي کمولو غوښتنه شوې وه، طالبانو ومنله، خو بيا يې د اوربند غوښتنه وکړه، همدې کړنې د طالبانو او امريکا تر منځ بې باوري لا زياته کړه او طالبانو په خپلو رسمي پاڼو کې د دوی او امريکا تر منځ د بې باورۍ راپوروونه خپاره کړل.

لسم: له امريکايانو سره اندېښنې دي چې کېدای شي طالبان به په لويو ښارونو او د ولسواليو په مرکزونو بريدونه کم او يا خو بيخي ونه کړي، خو د دې پر ځای به ټوله توجه کليوالو سيمو ته کړي، په داسې حال کې چې د امريکا/ناټو له خوا بمبارد هم نه وي، نو طالبان به خپلو حملو ته په کليوالو سيمو کې زور ور کړي او د افغان حکومت امنيتي ځواکونو ته به ډېره مرگ ژوبله واوړي، طالبان به په لرې پرتو سېمو کې ځينې امنيتي پوستې تر خپل واک لاندې راولي.

يوولسم: امريکايان فکر کوي چې د طالبانو د قطر سياسي دفتر ډېر واکونه لري، چې د سولې مذاکراتو کې پرمختگ او د تاوتريخوالي اړوند ډېر څه ومني، خو دوی خپل بشپړ واک نه کاروي او د خپلې ډلې د مشر له خوا له پوره واک ورکولو سره سره دوی ډېر لږ د تاوتريخوالي کمولو په برخه کې مني.

دوولسم: طالبانو حس کړې چې د امريکايي لوري تر منځ هم د سولې مذاکراتو کې اجماع نشته، ځکه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ليواله دی چې د سولې مذاکرات گړندي مخکې يوسي، پنټاگون او سي آی اې بيا غواړي چې پر طالبانو خپلې غوښتنې ومني، څو د سولې تړون د دوی پر ماتې تمام نه شي او سپينه ماڼۍ بيا مجبوراً د بهرنيو چارو د وزير په پرتله د پنټاگون او سي آی اې څرگندونو ته پر اهميت قايله ده، همدا لامل دی چې د سولې مذاکرات پڅ روان دي.

ديارلسم: امريکا او پاکستان پلوې افغان رسنۍ هڅې کوي چې د طالبانو مذاکراتي ډلې پر غړو، نظامي طالبان بې باوره کړي او طالبان به ممکن فکر کوي چې دا هم د امريکا او افغان حکومت گډه سوژه ده چې غواړي د طالبانو په منځ کې درز را منځ ته کړي.

**اندېښنې**

ښکاري چې د سولې بهير ټکنی شوی، امريکايان وېره لري چې کېدای شي ايران به له طالبانو سره د وسلو مرسته زياته کړي او اندېښنه لري چې کېدای شي طالبانو د چورلکو ضد توغندي تر لاسه کړي او يا هم په راتلونکي کې تر لاسه کړي. پر دې سربېره، د سيمې د هېوادونو او د امريکا تر منځ د پخوا په پرتله اختلافات زيات دي. پر افغانستان د امريکا د جگړې په لومړۍ لسيزه کې د سيمې هېوادونه له امريکا سره همږغي وو؛ خو له تېرو دريو يا څلورو کلونو راهيسې دغه اجماع نوره نشته. اوس که امريکايان د سولې مذاکراتو کې ناغېړي کوي او يو ځل بيا ښکېل لوري جگړې ته لومړيتوب ورکړي، لرې نه ده چې د طالبانو او د سيمې د مقتدرو هېوادونو تر منځ پېيلتيا لا پياوړې شي چې دا چاره به بې له شکه د جگړې معادله بدله کړي.

بل خوا د ولسمشرۍ ټاکنو وروستۍ پايلې هم له نامعلوم برخيلک سره مخ دي، ولس نه پوهېږي چې بيا به کومه معامله کيږي او که د ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شي، هغه ولسمشر به څومره قانوني واکونه ولري، چې غټ اکثريت سياسي ډلې او افغان سياستوال يې ننگه ونه کړي؟

د طالبانو اړوند لويه اندېښنه بيا دا ده، که د ژمي موسم پای ته رسېږي، پسرلی راشي، د پسرلي عمليات اعلان شي او په پسرلي کې به يو ځل بيا جگړې ډېر زور اخلي، طالبان به هڅې وکړي چې په راتلونکي پسرلي کې د اوسنۍ کمې جگړې جبران هم وکړي او خپلو بريدونو ته کېدای شي لا زيات زور ورکړي.

له دې ها خوا، بله اندېښنه دا ده چې له يو کال زيات وخت مذاکراتو وروسته، چې د طالبانو ډېر مهم او منلي مشران په قطر کې پاتې شوي، د مذاکراتو د برياليتوب لپاره يې شپه او ورځ کار کړی، که د هغوی بې باوري پر امريکا نوره هم دوام وکړي، کېدای شي د طالبانو مهم مشران (ملا برادر اخوند، ملا امير خان متقي، مولوی عبداللطيف منصور او ځينې نور) بېرته له قطر څخه ووځي او د رهبري شورا په ناستو کې د گډون لپاره د ډيورنډ کرښې غاړو ته ځانونه ورسوي.

که د طالبانو مشران له قطر څخه ولاړ شي، بيا به اسانه نه وي چې د سولې مذاکرات گړندي او منتج په قطر کې جريان پيدا کړي.

همدارنگه امريکايان اندېښنې لري، که له طالبانو سره د تاوتريخوالي کموالی په اوسنيو شرايطو ومني، طالبان به په کليوالو سيمو کې جگړو ته زور ور کړي او که چيرته له طالبانو سره د سولې تړون لاسليک کړي، بيا به هم طالبان له ډېر قوي موقف څخه له افغان سياستوالو + حکومت سره خبرو ته کېني.

له افغان ولس سره اندېښنه ده چې په سيمه کې هند له پخوا، ايران اوس، د سولې بهير برياليتوب نه غواړي، بلکې دواړه هيوادونه؛ هند د افغان حکومت په پلوي، ايران د طالبانو په پلوي، په افغانستان کې خپلې موخې لري.

**د حل لاره**

ښه دا ده چې په جگړه کې ښکېل لوري (افغان حکومت، امريکا، افغان سياستوال او طالبان) اوسنۍ د سولې لپاره چمتو فرصت له لاسه ورنه کړي، ټول لوري هڅې وکړي چې د سولې مذاکرات بريالي شي.

له طالبانو سره د امريکا د سولې تړون، امريکايانو ته مسووليت ورکوي چې د افغانستان جگړه په سم ډول پای ته ورسيږي او په راتلونکي کې له کورنۍ جگړې مخنيوی وشي.

که چيرته له امريکا سره د طالبانو د سولې مذاکرات بريالي نه شي، د سولې تړون لاسليک نه شي، امريکا کله هم د افغانستان د ارامۍ او سوکالۍ مسووليت نه مني او نه هم په افغانستان کې د جگړې شدت کميږي، نه په جگړه کې کموالی راځي او که پرته له مسووليت څخه، پرته د سولې تړون له لاسليک څخه امريکايي/ ناټو پوځيان له افغانستان څخه وځي، د کورنۍ جگړې د مخنيوي مسووليت هم بيا هيڅوک پر غاړه نه اخلي.

ښه به وي چې افغانان په يو غږ، پر امريکايانو غږ وکړي چې د افغانستان جگړه په مسوول ډول سره پای ته ورسوي، له طالبانو سره خپلې ستونزې حل کړي؛ څود بين الافغاني تفاهم او اوربند لپاره لاره هواره شي.

که څومره هم د سولې مذاکراتو کې نوې غوښتنې او نوي بحثونه را منځ ته کيږي، د سولې بهير ځنډنی کوي، ښه ده چې له تازه غوښتنو او نويو بحثونو څخه دواړه لوري ډډه وکړي.

دا چې دواړه لوري پر يو بل د چل شک کوي او يو پر بل بې باوره دي، د همدې بې باورۍ له منځه وړلو لپاره تر دې مهاله اړين کار هم نه دی شوی، پکار ده چې ځينې بانفوذه اشخاص او يا هم ځينې هيوادونه د امريکا او طالبانو تر منځ د بې باورۍ له منځه وړلو لپاره جدي کار وکړي.

دا چې تير ځل هم خليلزاد په قطر کې زيات وخت تير او طالبانو له هغه سره په ليدو کې ليوالتيا نه درلودله، دا ځل هم ممکن له پاکستان وروسته به خليلزاد قطر ته سفر کړی وي، کېدای شي طالبانو بيا هم له هغه سره د ليدو ليوالتيا نه درلودله او يا هم په ټيټه کچه کوم چا ور سره ليدلي وي، پکار ده چې د ليدنو د نه ليوالتيا لاملونه له منځه يوړل شي، او هغه داسې چې امريکايان پر خپلو پخوانيو ژمنو ودريږي.

امريکايان به غواړي چې د خبرو بهير وغځوي، خو د بهير په ځنډ کې د چا گټه او د چا تاوان دی، پرته له شکه چې طالبان ځان تاواني گڼي، ځکه د سولې بهير د ځنډ له امله د طالبانو د وسله والو حوصلې متاثره کيږي، امريکا ته پکار ده چې دغه باريکي درک او د سولې بهير گړندی کړي.

دا چې امريکايان فکر کوي چې دوی له طالبانو سره هغه څه مني چې طالبان يې غواړي (د بهرنيو پوځيانو وتل)، خو مقابل کې طالبان هم بايد ډېر څه ومني، زما په اند چې د امريکايي پوځيانو وتل حتمي دي، ښه دا ده چې د وتلو لپاره مناسبه لاره ځان ته پيدا کړي، نه دا چې هغه غوښتنې چې منل يې د سولې بهير له خنډونو سره مخ کوي، د امريکا له خوا وړاندې شي.

زه بيا هم پر دې خبره ټينگار کوم چې افغان ولس، افغان سياستوال او طالبان، ټول په يوه غږ د سولې بهير گړندي کيدو او بهرنيو پوځيانو د وتلو لپاره په گډه کار وکړي، د سولې بهير تړون لاسليک، افغاني مذاکراتو او د جگړې پای ته رسولو ته زمينه مساعده کړي.

## د کتاب خبري

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### ۴- د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند کول




**بل ډول زده کړه**

ریچ ویلي:((که ته ښه کرکټر ولرې، زیارکښ کاریگر به یې او څه چې لارښوونکي درته وایي، هغه به کوې. زموږ ټول لوبغاړي تکړه دي؛ خو ځوک چې د اکاډیمکو، ټولنیزو او نورو ستونزو او د دې ستونزو پېټې ونه لري، هغوی به لوړ مقام ته رسېږي.))

ریچ د خپلو لوبغاړو د کرکټر پر رغولو تمرکز کړی و. په دې خاطر یې د جورجیا په فوټبال کې یو نوی او بې ساري شی معرفي کړ. دا په هره اونۍ کې څو ځله پنځلس دقیقه یي ټولگی دی، دا ټولگی به یې «په بوټو کې د کرکټر خاوند» نومېده. دا ځکه چې له لوبغالي بولي راتاو وو. جورجیا ته نصاب د بوبي لانکفورډ له خوا راوړل شوی، ده له لوبغاړو سره د اخلاقو د لارښود (کوچ) په توگه کار کاوه. په تېر فصل کې دا پروگرام یوازې نوو خلکو ته اړین و. ورو ورو به ټول لوبغاړي گډون پکې وکړي. اصلاً د اخلاقو دغه کورس دومره مهم و چې د جورجیا مشر وینس ډولي به یې گټه وگوري، په دې خاطر به د جورجیا ټول لوبغاړي پکې داخل شي، ځینې وخت ښایي د پوهنتون د فراغت لپاره د یوه کریډیټ په توگه هم واخیستل شي.

لوبغاړو به د ریچ قدر کاوه، دا قدر یوازې د دې لپاره نه و چې دی یې کوچ و، بلکې د دې قدر او درناوي لامل یې خپل کرکټر هم و. چا چې په لومړي کال د جورجیا کې اوبون پر وړاندې لوبه تعقیبوله، دا ورته څرگنده وه. د لوبو په وروستیو شېبو کې یې چې د رپلې یا بیاکتنې غوښتنه وکړه، نو لوبډلې یې لوبه وبايلله. ریچ نه دلایل ولټول او نه یې بل څوک ملامت کړل، بلکې د خپلې تېروتنې له امله یې له لوبډلې بښنه وغوښته. یوه لوبغاړي، ډیوډ گرین ویلي:((د لوبغاړي په توگه تاسو د هغه چا درناوی کوئ، چې تاسو ته راشي او درته ووايي زه داسې احساسوم چې تېروتنه رانه شوې ده. د تېروتنې منل ټولو ته سخت دي، په تېره بیا د فوټبال روزونکي ته.)) ۱

ریچ خپله دنده دا نه گڼله چې په پوهنتون کې گټل شوي جامونه (کپونه) زیات کړي، بلکې خپل دنده یې دا گڼله چې د نورو خلکو ژوند ته وده ورکړي. ده د همدې لپاره هڅه کوله. یوه سپورتي لیکوال لیکلي:((په تېرو پنځلو کلو کې داسې شخص پیدا کول سخت دي چې تر ریچس مخکې شوی وي او دا احساس یې نه وي کړی چې د دوی لاره په همکارۍ او یو بل منلو روښانه شوې ده.)) ۲

په راتلونکي کې که د ده لوبغاړي تېروتنه کوي، نو د ده پرېکړې به د کرکټر پر اساس وي. کلونه مخکې ریچ ویلي:((که دا ټول خلک په دې خاطر ښه خلک وي چې جورجیا ته تللي، نو زه به ورته خوشاله شم. که یو کس راشي او ووايي چې زه ستاسو پروگرام ته د راتگ له امله ښه سړی، ښه مېړه، ښه پلار، یا ښه ښاري یم، نو دا به ما ته په ملي کچه تر اتلولۍ او د خلکو تر ښه نظره ډېره غوره وي.))

کرکټر مهم دی!

څه وخت مخکې مې فرصت وموند، مارک ریچ مې وکوت او لږ وخت مې ورسره تېر کړ. ما ته دا سړی د قوي کرکټر خاوند ښکاره شو. راته وې ویل پر ځان مې چې تمرکز بس کړ، نو ژوند مې ورسره بدل شو. هغه به چې هر څه کول، په ډېر ښه ډول یې کول او تمرکز یې له خلکو سره په مرستې و. دا سړی رښتیا هم د زرین قانون پر اساس ژوند کوي.

یوازې باشخصیته انسان د نورو پر ژوند دومره اغېز کولای شي، لکه ریچ چې وکړ. کرکټر د روڼ، رښتیني او ښه اخلاقي ژوند کولو کونجي ده.

- کرکټر یوازې خبرې نه دي!

په خوله ډېر خلک ښه غږېږي؛ خو د کرکټر د اندازه کولو او تللو اصلي کاڼي عمل دی. د ټایکو شرکت اجرائیوي رییس ډینس کوزلوسکي تل په خپل کاروبار کې د امکاناتو د کمښت او په نشت امکاناتو ته د شرکت د دفترونو د چلولو خبره کوي؛ خو چا چې د ده چارې له نږدې لیدلې وي، هغوی پوهېږي چې خبرې او عمل یې سره ورته نه دي.

- وړتیا ارثي او کرکټر کسبي وي

انسان په ژوند کې زیاتره شیان نه شي ټاکلی، مثلاً د زېږېدو ځای، مور او پلار، لوړوالی (ونه) او نور؛ خو ځینې نور حساس شیان بیا انسان پخپله خوښه ټاکي. موږ عقیده، چلن او کرکټر پخپله ټاکو .

- کرکټر اوږدمهالي بریا راوړي

له خلکو سره په کار کې باور اړین دی. کرکټر باور رامنځته کوي. له مارک ریچ نه راتاو خلک، لکه کشر روزونکي، لوبغاړي، کورنۍ او ملگري یې پوهېدل چې پر ده تکیه او باور کولای شي.

- خلک د خپل کرکټر پر پولو نه شي اوښتی!

په نړۍ کې د بریالیتوب له مخې درې ډوله خلک دي:
یو هغه چې نه بریالي کېږي؛
بل هغه چې د لنډمهال لپاره بریالي کېږي؛ او
درېیم هغه چې بریالي شي او بیا همداسې بریالي پاتې شي.
کرکټر درلودل د تلپاتې بریالیتوب یوازینۍ لاره ده.

**دوام لري...**

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

اکسوس کتابپلورنځی

له تېرو څو کلونو راهیسې زموږ په هېواد کې د خلکو اقتصادي حالت له گواښ سره مخ دی، خلک په فقر کې ژوند کوي، ځوک بې کوره دي، ځوک بې خوراکه او ان ځوک د یوې مړۍ ډوډۍ د موندلو لپاره وحشت ته مخه کوي.


زموږ د اقتصادي کمزورۍ یو لامل پر موږ تپل شوې جگړه ده. دا خبره تر ډېره سمه ده. خو که بل لوري ته وگورو، ځینې خلک د شتمنېدو پر لور روان دي. هغوی د شتمنېدو فکر لري او د دې کار لپاره د کلکو مټو تر څنگ، له خپلې پخې ارادې او مالي پوهې او فکر څخه کار اخلي.

رابرټ کیوساکي د شبکه یي بازارموندنې خورا تکړه لیکوال دی. ده او مېرمنې یې ډېرې ستونزې گاللې دي. دی وايي: «په ۱۹۸۴ ز کال کې مې زه او مېرمن د کور نه درلودو له امله په خپل زاړه موټر کې ویدېدلو، خو په ۱۹۸۹ ز کال کې میلیونران شوو.»

هغه په دې کتاب کې موږ ته د زر او هر وخت پیسو موندلو اسانه لارې چارې راښیي. د کتاب په لومړیو دوو څپرکو کې په ټوله نړۍ کې د اقتصادي بحران په اړه خبرې کوي. د دې څپرکو په پای کې وايي: «کله چې حالات سخت شي، نو سختي له منځه وړل کېږي. که دا خبره رښتیا وي او لکه چې رښتیا هم ده، نو دوې پوښتنې پیدا کېږي: ایا غواړې چې د سختۍ له منځه وړونکی کس شې؟ که مو ځواب هو وي، نو دویمه پوښتنه پیدا کېږي، څه باید وکړو؟ د لومړۍ پوښتنې ځواب باید تاسې ورکړئ او دویم ځواب زما ښه دی. دا ټول کتاب د دویمې پوښتنې په ځواب کې لیکل شوی دی.

په افغانستان کې هر کال زرگونه ځوانان له پوهنتونونو فارغېږي، ټول په دې فکر وي چې په دولت او یا هم کوم بل لوی شرکت کې به دنده پیدا کړي؛ خو حقیقت دا دی، موږ چې څومره کسان لرو، هغومره دندې نه لرو، رابرټ په دې کتاب کې په خورا ټینگار وايي چې دا کتاب د هغه چا لپاره نه دی چې په تنخوا د یو کار په فکر کې وي، بلکې د هغه چا لپاره دی چې خپل کار جوړ کړي او شتمن شي. هغو خلکو ته هم اشاره کوي چې له دندې ستړي شوي او اوس غواړي چې خپل کار جوړ کړي. دی وايي: «دا کتاب د هغه چا لپاره دی چې له دندې ستړي شوي وي او اوس غواړي چې خپل کاروبار جوړ کړي. له تنخوا ستړي شوی وي او اوس غواړي چې میلیونر شي.»

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قیمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | سیاست خارجی اسرائیل | محس اسلامی | ۲۷۰ ؋ |
| ۲ | شبکه یي دولت | ډاکتر تیمور شاران/سمیع الله مجاهد | ۲۵۰ ؋ |
| ۳ | نظامنامه ها و معاهدات جهانی افغانستان در دوره امانی | حبیب الله رفیع | ٤٥٠ ؋ |
| ٤ | رویداد لویه جرگه دارالطلسطنه ۱۳۰۳ | حبیب الله رفیع | ۲۷۰ ؋ |
| ٥ | گایټن او هال فزیولوژي | احسان الله درمل | ۷۰۰ ؋ |
| ٦ | زما ژوند شاعري او لیکوالي | عبدالباري جهاني | ۲۳۰ ؋ |
| ۷ | دیورند یک خط نفرین شده میان قلب افغان ها | راجیو دوگرا/ عبدالله هیواد | ۳۰۰ ؋ |
| ۸ | د رحمان بابا دیوان | محمد عارف غروال | ۲۳۰ ؋ |
| ۹ | راز های زندگی | داکتر جمشید رسا | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۰ | نبرد تا آخرین نفس شیوه جنگ ارتش پاکستان | کرول کریستین فییر/خالد خسرو | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۱ | د میني ځلوېښت اصول | ایلف شافاک/میر احمدیاد | ۲۸۰ ؋ |
| ۱۲ | د میرزا علم حمیدي نثري کلیات | ابراهیم ایمان | ۱۷۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصادي نظریات | محمد نادر ایوبي | ۳۳۰ ؋ |
| ١٤ | خونړۍ سپېدې | امیر عشیري/جبار فراز | ۱۵۰ ؋ |
| ١٥ | ډېوېډ جونز | نصیر احمد احمدي | ۱۵۰ ؋ |
| ١٦ | ډمه او خبریال | محبوب شاه محبوب | ۷۰ ؋ |
| ۱۷ | زما ژوند او جد و جهد | عبدالغفار خان | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۸ | د خوشحال خټک دستارنامه | سید غني غني | ۱۰۰ ؋ |
| ۱۹ | چین در قرن بیست و یک | جیفری ان. واسرسترام/ بسم الله علی زاده و جمعه خان رهیاب | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۰ | پس از طالبان ملت سازی در افغانستان | جیمز دابینز/ عارف سحر | ٤٠٠ ؋ |
| ۲۱ | ماموریت سقوط | گری شرون/اسدالله شفایی | ٥٠٠ ؋ |
| ۲۲ | د خپلې ځوانۍ ساتنه وکړئ! | شیخ خمیس بن سعید محمد/محمد ظاهر | ۷۰ ؋ |
| ۲۳ | آخرین سپه سالار | برایان گلین ویلیامز/اسدالله شفایی | ٤٥٠ ؋ |
| ٢٤ | تعلیم الاسلام | محمد کفایت الله دهلوي/ محمد رسول سعید | ۱۰۰ ؋ |
| ۲٥ | اسلام، اخلاق او سیاست | محمد محق/محب الله زغم | ۱٥۰ ؋ |
| ۲٦ | آسماني دین، ځمکني واقعیتونه | محمد محق/محب الله زغم | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۷ | افغانی تاریخچه و البم پولهای کاغذی افغانستان | حبیب الله رفیع | ۱,۰۰۰ ؋ |
| ۲۸ | افغانۍ د افغانستان د کاغذي پیسو تاریخچه او البم | حبیب الله رفیع | ۱,۰۰۰ ؋ |
| ۲۹ | د ژباړې فن | رفیع الله ستانکزی | ۱۰۰ ؋ |
| ۳۰ | د یوویشتمې پیړۍ تجارت | رابرټ کیوساکي/علي الله متوکل | ١٤٠ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ        اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیاني

# له پلار سره څنګه ملګرتیا وکړو؟

لیکنه: ملیحه ناصري

د ټولو خوښېږي چې له خپل پلار سره د ملګرتیا اړیکه هم ولري. کله مو چې پلار خوشحاله وي، له تاسو سره هم په خوښۍ چلن کوي. د پلار خوشالول یو څه سخت ښکاري، خو د سمې کورنۍ لرلو لپاره اړینه خبره ده. که لږ پر خپلو کړنو او هغه چلن چې له پلرونو سره یې کوي، تمرکز وکړئ، کولی شي پر ژوند مو مثبت اغېز وکړي.

له پلار سره صمیمي و اوسئ!

له هغه سره یو څه وخت تېر کړئ، دا چې په کاري او رسمي ورځو کې مو پلار ته وخت ځانګړي کول لږ ستونزمن دي، خو که ځان اړ وګڼئ او د ځینو خبرو یا عقایدو په اړه مو خبرې اترې ورسره وکړئ، هغه به در څخه خوشاله هم شي او کورنی نظام به مو هم ټینګ او سم وي. هر څه چې درته ارزښت لري، د همغه په اړه خبره را واخلئ، کله مو چې پلار خبرې پیل کړې، د زړه په غوږو یې واورئ. له حاله یې، له تېر ژونده یې، ځوانۍ او نورو هغو مسایلو چې غواړې پرې پوه شی، ځان خبر کړئ. دا بیا کله چې پلار مو نه وي درسره، یو یاد سرې ته پاتې کېږي او یوه خوږه خاطره شي چې ډېرې وخت یې په بیا یادولو سرې ډېر خوند اخلي.

له جنګ او شخړو ځان وساتئ، کېدای شي د پلار له ځینو خبرو سره موافق ونه اوسی یا مو هغه د خوښې وړ کار کولو ته پرې نږدي، دلته ستاسو مخالفت نه کول یا غبرګون نه ښودل لږ سخت وي، خو هڅه وکړئ چې ځان کابو کړئ، کله مو چې وینه سره شوه، بیا خبرې ورسره وکړئ. که مو ډېر ماغزه خراب وو، کرار کېنئ یو ګیلاس یخې اوبه وڅښئ، ژوره ساه واخلئ او تل په هغو ټکو پسې ګرځئ چې پلار مو درته د درک وړ ګرځوي. دا چې د کوم کار اجازه نه درکوي، ښایي هغه به له بلې زاویې ورته ګوري. دلیل به لري. که مو پلار غوسه و، د غوسې لامل یې پیدا کړئ، هیله ده له هغه سره احساساتي برخورد ونه کړئ.

مشوره ورسره وکړئ، د ژوند په چارو، دفتري کارونو او ملګرتیاوو په اړه مو ترې مشوره وغواړئ. که هغه په دې اړوند کومه تجربه هم ونه لري، خو ممکن چې لږ لارښوونه درته وکړای شي. دا چې تاسو له هغه مشوره وغواړی، خوشاله کېږي او ډاډه وي چې ارزښت مو ورکړی دی.

مینه مو څرګنده کړئ، ورته وښیئ چې څومره دربانديې ګران دی. غېږه ورکړئ، لاسونه یې ښکل کړئ، له مینې ډکې خبرې ورته وکړئ. ځینې پلرونه دا کړنې نه خوښوي، یانې ښه نه ورته ښکاري، خو د انسان یوه بنسټیزه اړتیا مینه ده. کېدای شي احساسات در څخه پټ کړي، خو په زړه کې هرو مرو خوشاله وي. ځینې اولادونه هم د مینې له څرګندولو شرمېږي، خو لږ ځان آرامه احساس کړئ. اړینه نه ده چې د خلکو په مخ کې دا کار وکړئ، مناسب ځای او سمه موقع ولټوئ.

هغه کارونه وکړئ چې ورته اړین دي. نصیحتونه یې یاد ساتئ، د بېلګې په ډول، هغه وایي چې تل رښتیا وایه، هڅه کوه او داسې نور. که وخت ته پاملرنه او پر سمه کارونه یې ټینګار کاوه، نو دا کار وکړئ. داسې نه ده چې تل دې دا خبرې درته تکراروي، یوازې یو ځل به یې ویلې وي، خو ټینګار به یې پرې کړی وي. داسې نه چې هر څه وایي تاسو یې ومنئ، هر هغه څه چې ارزښت یې درلود، هم تاسو او هم هغه ته.

کورني مسوولیتونه پر ځای کړئ

خپلې چارې خپله تر سره کړئ، کېدای شي د پلار مو ځینې کورنۍ چارې خوښېږي چې تاسو یې باید وکړئ، که ستاسو د کور چارې نه وي خوښې او کول یې درته سخت وي، نو په دې اړه ترې مشوره وغواړئ. مشوره یې چې درکړه، بیا نو هغه عملي هم کړئ. که تاسو مشوره وغواړئ او پر هغه عمل ونه کړئ، دا کړنه درناوی نه ده، هغه بې احترامي شمېرل کېږي. که مو له یاده وتل، موبایل مو ورته کوک کړئ.

نوښتګر اوسئ. هغه کار وکړئ چې پلار مو غواړي درته ووایي، خو نه یې وي ویلي، په هر دلیل چې وي، که تاسو دا کار وکړئ، یو ناڅاپه به مو پلار خوشاله کړئ. که دندې ته روان و او کار توکي یا د اړتیا وړ شیان یې چمتو نه وو، ورته چمتو یې کړئ. که چای یې نه و څښلی، ورته تیار یې کړئ. پخلنځی خیرن مه پرېږدئ. د کورخونه بې نظمه او ګډوډه مه ساتئ.

خپله خونه پاکه ساتئ. هغه څه چې ډېری مور او پلار غوسه کوي، د کوټې ټیټوالی دی. آن که هغه خونه یوازې ستاسو هم وي او څوک غرض نه ورسره لري، خو ورته وښیئ چې تاسو کولی شی د هغو شیانو مسوولیت پخپله پر ځای کړئ چې په تاسو پورې اړه لري. له خوبه چې پاڅېدلی، بړستن، کمپله او هر څه چې وو قات یې کړئ. کوټه کې داسې انځورونه مه راځړوئ چې د پلار پر وړاندې ستاسو شخصیت راټیټ کړي.

له انټرنېټ او موبایل سره احتیاط کوئ. که ستاسو د کرېډېټو پیسې پلار درکوي، نو هڅه وکړئ چې ښځې پر ځای او مسوولانه یې وکاروئ. کوم محدودیتونه یې چې دربانديې وضعه کړي، لکه کوم شیان وکاروه، کوم مه کاروه، څه رقم پوستونه وکړه یا ډېر نېټ مه کاروه، هغو ته پام کوئ. هڅه وکړئ چې د دسترخان پر سر په موبایل کې ګوتې ونه وهئ. که چېرې ځوانان او پر هر څه پوه وی، خپله پوهېږئ چې څه وکړی او څه نه.

خویندو ورونو ته مو پام کوئ. خویندې او ورونه چې سره اتفاق او یووالی ولري، پلار خوشاله وي. داسې نه چې هغه له دندې سترې ستومانه راشي، یوې خوا ته ورونه سره نښتي وي، بلې ته خویندې.

په ازموینو کې مو نومرو ته پاملرنه وکړئ. درس ووایئ، مطالعه وکړئ او نومرو ته مو پام وکړئ.

ښه او سم ملګري وټاکئ. له داسې کسانو سره ملګرتیا وکړئ چې مثبتې اخلاقي ځانګړنې ولري. داسې نه چې تاسو په ملګرتیا کې له لارې وباسي. له ملګرو مو په پټو سترګو تقلیدونه مه کوئ. که مو د ملګرو له لوري هر ډول فشار دربانديې و، بې له کومې وېرې مو پلار خبر کړئ.

## د بشري حقونو کمېسیون: په تېر ۲۰۱۹ میلادي کال کې نږدې ۱۱زرو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، په تېر ۲۰۱۹ میلادي کال کې د تاوتریخوالي کمېدو او د سولې له خبرو سره سره نږدې ۱۱زرو افغان ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دغه کمېسیون مرستیال محمد نعیم نظري پرون د ملکي تلفاتو په اړه د یاد کمېسیون د کلني راپور د اعلان پر مهال وویل، چې د ۲۰۱۹ میلادي کال په جریان کې دوه زره ۸۱۷ افغان ملکي وګړي په وسله والو نښتو او ماین چاودنو کې وژل شوي او اووه زره او ۹۵۵ نور ټپیان شوي دي.

هغه زیاته کړې: «د تاوتریخوالي په یادو قربانیانو کې ٦۸۴۵ تنه نارینه، ۹۷۴ ښځې او ۲٦۹٦ ماشومان شامل دي، د یادونې وړ ده چې د ۲۵۷ تنو ټپیانو او وژل شوو کسانو جنسیت د بشري حقونو له خپلواک کمېسیون سره تثبیت شوی نه دی.»




د یاد کمېسیون د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د ملکي تلفاتو په کچه کې نسبت تېر ۲۰۱۸ میلادي کال ته ۷.۲۸ سلنه کموالی راغلی دی.

دغه کمېسیون ویلي چې په ۲۰۱۸ میلادي کال کې ۱۱زره ٦۱۱ افغان ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه چې له دې ډلې ۳۲۷۷ تنه وژل شوي او ۸۳۳۴ تنه نور ټپیان شوي وو.

د بشري حقونو د کمېسیون مرستیال زیاته کړې چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې ۴۴۵ افغان ماشومان په وسله والو نښتو کې وژل شوي او ۲۲۵۱ نور ټپیان شوي دي چې نسبت ۲۰۱۸ میلادي کال ته د ماشومانو په تلفاتو کې ۰.۲۲ سلنه زیاتوالی ښیي.

یاد کمېسیون د ښځو په مرګ ژوبله کې د ۸۳.۳ سلنې پر زیاتوالي هم اندېښنه ښودلې ده.

د کمېسیون د راپور له مخې، د ۲۰۱۹ میلادي کال په جریان کې ۲۸۲ افغان مېرمنې وژل شوې او ٦۹۲ نورې ټپیانې شوې دي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ میلادي کال کې ۲۵٦ وژل شوې وې او ٦۵٦ نورې ټپیانې شوې وې.

د بشري حقونو کمېسیون په راپور کې ویل شوي چې افغان ملکي وګړو ته زیاته مرګ ژوبله د سړک غاړې او چسپکي ماینونو او چاودېدونکو موادو له امله اوښتې چې له امله یې ۸۰۳ تنه وژل شوي اودوه زره ۳۳۳ نور ټپیان شوي دي چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه په برکې نیسي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویلي چې د ملکي وګړو ۲۳ سلنه مرګ ژوبله چې له امله یې ۱۲۷ تنه وژل شوي او ۲۳۵۱ نور ټپیان شوي، د وسله والو نښتو له امله ده چې ۱۸ سلنه زیاتوالی ښیي.

نوموړي زیاته کړې چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د ځانمرګو بریدونو له امله ۴۴۷ تنه وژل شوي ۱۱۹۲ نور ټپیان شوي چې نسبت ۲۰۱۸ میلادي کال ته پکې ۴۵ سلنه کموالی راغلی دی.

## د محمدنور کورنۍ: د ولسمشر له ژمنو پنځه میاشتې تېرېږي، خو عملي نه شوې

د محمدنور وردګ په نوم د کابل ګارنیزیون د هغه سرتېري کورنۍ چې د روان کال د سنبلې په ۱۸مه د احمدشاه مسعود پلویانو په ډزو په کابل ښار کې ووژل شو، وایي چې ارګ ورسره کړې ژمنې نه دي عملي کړې. د وژل شوي سرتېري زوی سید مصطفي مسیر ورځپاڼې ته وویل، ولسمشر غني په ارګ کې د هغوی له کورنۍ او قومي مشرانو سره د ډېرو ژمنو تر څنګ، دا ژمنه هم کړې وه چې د پلار قاتلین به یې نیول کېږي او کورنۍ ته به یې یو کور هم ورکول کېږي، چې پنځه میاشتې وروسته دا ژمنې یوازې تشې خبرې پاتې دي او کومه عملي بڼه نه لري.




په ورته وخت کې د وردګو د قومي شورا مشر انجنیر سیدالرحیم ستار هم ویلي، چې د وژل شوي سرتېري محمدنور کورنۍ ته د ولسمشر له لوري ژمنه شوی کور نه دی ورکړل شوی. نوموړي زیاته کړې: «متاسفانه په هغه ورځ احساسات ډېر ګرم وو او له هغه ورځې نه تر اوسه چې پنځه میاشتې تېرې شوې، هېڅ هم نه دي شوي.»

ستار له ولسمشر غني غوښتي چې مسوولو مراجعو ته بیا لار ښوونه وکړي، څو کړو ژمنو ته عملي بڼه ورکړي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د حکومت او په ځانګړې توګه ارګ د وژل شویو کسانو له کورنۍ سره د مرستې ژمنې کړې، خو په دې اړه یې هېڅ عملي اقدام نه دی کړی.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۰ |
| € | ۸٤,۸۰ |
| Rp. | ٤۹۱ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱۶مه | د ۲۰۲۰ د فبروري پنځمه | ۵۰۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۱۵ | ۱۵ | ۱۳ | ۱۷ | ۱٤ |
| -۸ | ۱ | -۲ | ٦ | ٤ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۵ | لمر ختل ۰٦:۵۰ | ماسپښين ۱۲:۰۸ | مازيګر ۰۳:۰۳ | ماښام ۰۵:۲۵ | ماخوستن ۰٦:۵۱

## نړۍ



راپورونه: د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ په تازه نښتو کې له ۲۰ ډېر کسان وژل شوي

۳

## ایراني رسنۍ: د سپاه پاسداران ځواکونو قدس ډله په ډېرو بهرنيو جګړو کې ښکېله ده



ایراني رسنيو تاييد کړې چې د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو قدس ډله په بهرنيو جګړو کې ښکېله ده.
دا په داسې حال کې ده چې د سپاه پاسداران انقلاب د قدس ډلې د قوماندان قاسم سليماني له وژل کېدو وروسته، ايران هڅه کوي چې هغه يو ملي اتل معرفي او لاس ته راوړنې يې وستايي.
تهران اوس هغه کارونه په يوه ډول افشا کوي چې سليماني پکې ښکېل و او له دې کاره يې موخه دا ده چې د سليماني ياد تازه وساتي.
د يادونې ده چې قاسم سليماني يوه مياشت وړاندې په عراق کې د امريکايي ځواکونو په هوايي برید کې ووژل شو.
تازه د ايران نيمه دولتي فارس خبري اژانس له هغو عملياتو پرده پورته کړې چې سليماني له ۱۹۹۸ ميلادي کال څخه تر خپل مرګه په پټه رهبري کړې دي.
د فارس په راپور کې راغلي چې د سپاه پاسداران انقلاب د قدس ډله د افغانستان، بوسنيا هرزګوينا، سوريې، د غزې ترانګې او عراق په جګړو کې ښکېله وه. دا په داسې حال کې ده چې د سليماني له وژل کېدو وړاندې ايران د دغو مسايلو په اړه په اسانه څه نه ويل او هغه تورونه يې هم ردول چې د بهرنيو د ملاتړ له کبله پر دغه هېواد لګېدلي وو.

## اروپايي ټولنه: د اسراييلو له خوا اشغال شوې سيمې په رسميت نه پېژنو

اروپايي ټولنې ويلي، د منځني ختيځ په اړه د پېړۍ معاملې په نوم د ټرمپ د سولې طرحه له نړيوالو قوانينو سره سمون نه خوري او دا طرحه له نړيوالو اصولو سره په ټکر کې ده.
د دغې ټولنې د بهرني سياست مسوول جوزپ بورل ويلي، د بيت المقدس په اړه هره هوکړه بايد د فلسطين او اسراييلو تر منځ له مخامخ خبرو وروسته وشي. هغه زياته کړې چې دا ټولنه به د اسراييلو له لوري د فلسطين اشغال شوې سيمې په رسميت ونه پېژني، نو غوره ده چې په دې اړه له سره غور وشي او اجازه ورکړل شي چې دواړه هېوادونه خپلې پرېکړې پخپله وکړي. د يادونې ده چې د امريکا ولسمشر څو ورځې وړاندې د منځني ختيځ په اړه د سولې طرحې جزيات وړاندې کړل چې له مخې يې بيت المقدس د اسراييلو د پلازمېنې په توګه اعلان شوی دی او دې پرېکړې د ډېرو اسلامي هېوادونو غبرګونونه راپارولي دي.
د اروپايي ټولنې له دغه اقدام وړاندې د اسلامي هېوادونو کنفرانس هم د ټرمپ دغه پرېکړه رد کړه او ټينګار يې وکړ چې دغه ډول اقدامات به په سيمه کې تاوتريخوالی لا زيات کړي.


## یک مرکز ویژه برای کنترول شیوع احتمالی ویروس کرونا در کابل گشایش یافت



یک مرکز ویژه برای کنترول شیوع احتمالی ویروس کرونا در شفاخانه افغان-جاپان کابل گشایش یافت.
فیروزالدین فیروز، وزیر صحت عامه دیروز در مراسم گشایش این مرکز به خبرنگاران گفت، این مرکز صد بستر دارد. وی همچنان افزود: «اینجا برای مریضانی است که تشخیص شده که ویروس کرونا دارند. کسانی که ویروس ندارند، سالم هستند برای قرنطین آنان جای دیگری را ساختیم. این شفاخانه خاص برای آن مریضانی است که تشخیص شود و یا مشکوک باشند، در این شفاخانه آورده، تشخیص و تداوی می‌شوند؛ بخاطری که از اینجا بیرون بردنش زمینه خطر انتشار را زیاد می‌سازد.»
این مرکز ۲۰ داکتر متخصص و ۳۰ تن پرستار دارد و به حمایت مالی سازمان جهانی صحت و جاپان به هزینۀ ۵۰ میلیون افغانی آماده شده است.
همچنین وزیر صحت عامه می‌گوید، به زودی در شفاخانه‌های ننگرهار، هرات و مزارشریف نیز برای کنترول موارد احتمالی آلودگی به ویروس بخش‌های ویژه ساخته می‌شود.
آقای فیروز گفت، بیشتر این داکتران برای کنترول و درمان بیماری‌های ویروسی به چین فرستاده شده‌اند.
وزارت صحت عامه افغانستان می‌گوید، تلاش دارد که از آمدن این ویروس به افغانستان جلوگیری کند، اما از جلوگیری آن به گونه کامل هم اطمینان نمی‌دهند.
بر اساس گزارش‌ها تا حال در چین نزدیک به ۲۱ هزار تن به کرونا آغشته شده‌اند و بیش از ۴۰۰ تن دیگر جان باخته‌اند. همچنین علاوه بر این کشور در شماری از کشورهای دیگر نیز اشخاص آلوده به این ویروس شناسایی شده‌اند.

## ژونـــد

## دغه خواړه له ښه خوب سره مرسته کوي




هغه خواړه چې روغتيا پالان يې د شپې له خوا د خوراک سپارښتنه کوي او وايي چې د ښه خوب لپاره ګټور دي، ځينې هغه يې دا دي:
ماهی: که د شپې له خوا په کمه اندازه د ماهي غوښه وخوړل شي، په ښه خوب کې درسره مرسته کوي.
سپيني وريژې: د امريکا د کلينيکي غذا په ژورنال کې يوه خپره شوې څېړنه وايي، هغه کسان چې د شپې له خوا له سبو سره سپيني وريژې خوري، تر نورو ژر پرې خوب راځي او ښه ويده کيدلی شي.
مستې او شيدې: که څه هم غوړ لبنيات لکه پنير او کوچ د شپې له خوا معده او خوب دواړه ناارامه کوي، خو مستې او شيدې له تاسو سره د ښه خوب په کولو کې مرسته کوي.
غلې دانې: له وربشو، جوارو، غنمو او نورو غله جاتو څخه جوړ شوي خواړه لکه وچه ډوډۍ او نور پراخ مګنيزيم لري او که تاسو لږ مګنيزيم لرونکي خواړه خورئ، نو ويده کيدل مو ستونزمن دي.

## شين چای مو ښکلي کوي



په شين چای کې شته انتي اکسيدونه، پولي فينول او کافين د عمومي روغتيا لپاره ډېر ګټور دي. پر دې سربېره، شين چای د انسان پوټکی او ويښتان هم روغ او تازه ساتي. شين چای پوستکی ژر زړښت ته نه پرېږدي. هغوی چې شين چای څښي، پوستکی يې ځوان وي او ژر ګونځې کېږي نه. په شين چای کې شته انتي اکسايدونه له زړښت سره مبارزه کوي.
شين چای د باکتريا ضد خصوصيات لري. شين چای د مخ تور داغونه له منځه وړي او مخ ته ښکلا ورکوي. د مخ باکترياوې هم وژني او د مخ پوټکی روغ ساتي. يوه پياله شين چای تيار کړئ. کله مو چې ويښتان پريمنځل؛ د شنه چای نم ورکړئ. دغه څه مو ويښتانو ته ښکلا او ځانګړې بوی هم ورکوي. له دې وړاندې ځينې کسان په دې اند وو چې ګواکې شين چای د انسان پوستکی وچوي، خو اوس څېړنو ثابته کړې ده، چې شين چای د پوستکي له ښايست سره مرسته کوي.




خپله سوداګري د عزيزي بانک جاري حساب سره بدايه کړئ

- دغه حساب افراد/ شرکتونه/ دولتي او غير دولتي انجوګاني او سفارتونه پرانېستلی شي.
- حساب په افغانيو/ امريکايي ډالرو/ يورو او انګليسي پوندو پرانيستل کيدای شي.
- د پيسو په زياتولو او ايستلو کوم لګښت نه راځي.
- د هرې راکړې ورکړې (معاملې) خبرتيايي پيغام خدمتونه
- د لويو شرکتونو د حساب لپاره لږ تر لږه 300 امريکايي ډالر/يورو/انګليسي پونډ/ 10000 افغانۍ او د انفرادي حساب لرونکو لپاره 100 امريکايي ډالر/ 1000 افغانۍ بې له کومه ساتندويه فيس څخه اړينې دي.
- د زياتو معلوماتو په پار، مهرباني وکړئ زمونږ تر ټولو نږدې څانګې ته ورشئ او يا مونږ سره په 1515 شميرې اړيکه ونيسئ.

www.azizibank.af 1515